www.larkhud.com

ليکوال: خالد بن حمد الخريف
ژباړن: عبد الرحمن ناصر

# د جادو په جادو سپړل

Download from:aghalibrary



www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# د جادو په جادو سپړل

لیکوال:

خالد بن حمد الخریف

ژباړن:

عبد الرحمن ناصر

کال ۲۸/۰۵/۲۰۲۰م

Download from:aghalibrary

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner




Download from:aghalibrary
الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## يادونه:

په ټولنيزو رسنيو کې د اسلامي لارښود سايټ د نوم په يادونې سره هر چاته دکتاب نشرولو اجازه ده، خو په کتاب کې بدلون او تغير راوستل او يا په خپل نوم د خپلې لوګو سره خپرول اخلاقي جرم دي، بايد ډډه ترې وشي.

**په درنښت**

**د اسلامي لارښود سايټ اداره**



Download from:aghalibrary
الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**د چاپونې ټولې رښتې د ژباړن سره خوندي دي**

## د کتاب ځانګړنې

---

د کتاب نوم: د جادو په جادو سپړل

لیکنه : خالد بن حمد الخريف

ژباړن : عبد الرحمن ناصر

کمپوز : ژباړن

چاپ کال : ۲۰۲۰م

چاپ شمیر: ناچاپ

خپرندوی: اســلامي لارښود ســایټ

---

Download from:aghalibrary

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## د لیکوال سریزه

الحمدلله الذي أنزل على عبده الكتاب ولم يجعل له عوجا، والصلاة والسلام على من بعثه ربه على فترة من الرسل، واندراس من العلم، ليخرج به الناس من الظلمات إلى النور، بعثه الله هاديا وبشيرا، وداعيا إلى الله بإذنه وسراجا منيرا، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا. أما بعد:

په عبادت کې الله او د شرک او مشرکانو څخه بې زاري، او د الله نه غیر په نورو معبودانو کفر کول دې ټولو ته توحید وایي.

او همدا توحید د دین اساس او د مؤمن او کافر مشرک په مینځ کې جدایي راولي.

الله جل جلاله په خپل کتاب کې د توحید عظمت او لوی والی بیان کړی دی، قرآن مجید ټول توحید ته دعوت، او د شرک او وسایلو څخه منع ده.

او همدغې موخې ته د رسیدو په خاطر نبي ﷺ په مکه مکرمه کې لس کاله تېر کړل چې خلک یې توحید ته رابلل.



Download from:aghalibrary
الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بيا يې چې کله په مدينه منوره کې ثبات پيدا کړ د اسلام نور احکام يې خلکو ته بيان کړل، او همدا د توحيد د اهميت څرګند دليل او هغه اساس دی چې نور دين پدې باندې ولاړ دی، او هر رسول چې الله رالیږلی دی توحيد ته يې دعوت او د شرک نه يې منع کړي ده.

لکه چې الله جل جلاله فرمايي:"وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلطَّٰغُوتَ"النحل:٣٦

ژباړه:"او يقيناً مونږ په هر يو امت کې يو رسول لیږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ"

د توحيد ماتونکی شی چې الله جل جلاله په قرآن کې په کفر سره ياد کړی هغه سحر او جادو دی، او خپل بنده ګان يې ترې ويرولي دي، چاچې جادو وکړ په آخرت کې يې هيڅ برخه نشته.

الحمدلله دا ټولې خبرې روښانه او ښکاره دي، پیړی په پیړی نسل تر نسل مسلمانانو د قرآن او سنت د اتباع د وجې نه د جادو او جادوګرو څخه انکار کړی دی، او چا پکې اختلاف نه دی کړی.



Download from:aghalibrary
الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

پدې رساله کې مې لاندې موضوعات بیان کړې دي:

- جادو په جادو سپړل او د جادو قسمونه او د هغې پیژندنه.
- د جادو شرعي علاج او طریقې
- د جادو په جادو علاج او حکم
- د هغه شبهاتو او اقوالو ځخه ځوابونه چې د جادو په جادو سپړلو جواز یې ورکړی دی. او د ځینو علماوو د اقوالو نه ځوابونه چې د هغوی د اقوالو ځخه جواز معلومیږي، ځکه چې علماء معصوم نه دي، او ځکه چې اعتبار هغه وینا لره وي چې صحیح دلیل ولري، او ځکه چې د علماؤ د اقوالو لپاره به د قرآن او سنت ځخه استدلال کیږي، او د قرآن او سنت لپاره به د علماؤ د اقوالو ځخه استدلال نه کیږي.

په علماؤ او طلاب العلمو د شرعي نصوصو عزت او د هر چا په وینا باندې وړاندې کول لازم دي،او ورباندې لازم دي چې د علماؤ په اقوالو کې دقیقه کتنه وکړي،هغه ترې واخلي چې صحیح دلیل ولري،مشتبه قول نه ځان وساتي، پداسې حال کې چې واضح قول



Download from:aghalibrary
الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

موجود وي او دوی په شاذ قول عمل وکړي، ځکه زیاتو مسایلو کې شاذ اقوال موجود دي.
نو آیا مونږ به په شاذ اقوالو دلیل نیسو، او ښکاره دلیل او د علماؤ روښانه اقوال به پرېږدو؟
نه، هیڅ کله هم نه.
کله چې ما ولیدله چې د جادو په مسله کې په ځینو خلکو اشتباه او خلط راغلی، په ځانګړې ډول په داسې وخت کې چې جادوګران او منتریان ډېر زیات شوي دي، او د اکثرو مسلمانانو ایمانونه کمزوري شوي دي، او د داسې لویو زیانونو ویره وه چې یواځې الله ته یې پته ده، او د جادوګرو چرچه پدې پلمه نوره هم زیاتیدله چې دوی د جادو علاج کوي، آن تر دې چې ځینې ددې لپاره جادو کوي چې نور خلک ورته د علاج لپاره راشي او مالونه ترې ووهي،نو د حق د پوره بیانولو په موخه ددې کتاب په لیکلو کې مې د الله څخه مرسته وغوښته او له هغه نه مې د خیر غوښتنه وکړه چې حق بشپړ واضح شي او هم ورسره د امت مسلمه پوره خیر خواهي وشي.



Download from:aghalibrary
الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ددې رسالې مراجعه د لویو علماؤ د کمیسیون غړی او د علمي بحثونو او فتوی ورکولو غړی:دوکتور صالح الفوزان حفظه الله وکړله، او د خپرولو وصیت یې راته وکړ، الله دې ورته نېکې بدلې او دوه چنده ثواب ورکړي، آمین.

همدارنگه په عام ریاست کې د فتوی ورکولو غړی:شیخ عبدالعزیز بن محمد الداؤد حفظه الله ورعاه، او د ریاض په ښار کې د (معهد الإمام الدعوة العلمي) استاد:محمد بن عبدالله المعیوف ولوستله.

همدغه شان نورو طلباؤ مراجعه کړله، ټولو یې ستاینه وکړه او د عامې فایدې په خاطر یې راته د خپرولو وصیت وکړ، د ټولو نه مې ښه فایده ترلاسه کړه،الله دې ټولو ته نیکې بدلې ورکړي،آمین.

الله دې زمونږ دا عمل حق ته رسیدونکی وگرځوي، او په مونږ دې وبال او حجت ونه گرځوي،آمین.

وصلی الله وسلم وبارك علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه وسلم تسلیما مزیداً.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## جادو په جادو سپړل او علاج یې:

(نُشْرة) په پیش دنون سره: هغه دمونه دي چې لیونی،مریض،او پیریانو والا پرې دمولی شي.
کله کله عرب هغه شخص ته هم نُشره وایې چې ډیر ضعیف او کمزوری وي.
إمام کلابي رحمه الله وایې: کله چې په نظره شوي شخص باندې دمونه واچول شي گویاکی دا په رسۍ تړل شوی وو، او اوس ترې ازاد شو،
او نشره ورته ځکه وایې چې په دغه دمونو باندې پټ مرضونه سپړدلی شي.
په حدیث کې راځي چې د نبي ﷺ څخه د نشري په هکله پوښتنه وشوه، نبي علیه السلام وویل:( هي من عمل الشیطان)
ژباړه:جادو په جادو ختمول د شیطان د کارونو څخه دی.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

امام حسن بصري رحمه الله وايې: د جادو علاج په جادو سره بعينه جادو دی.تاج العروس:(١٤/٢١٧)،لسان العرب:(٥/٢٠٩)

امام ابن الأثير رحمه الله ويلي دي: (نُشرة) په پیش د نون سره: یو قسم دمونه او علاج دی د هغه شخص علاج پرې کیږې چې پیریان پکې وي، او نشره ورته ځکه وايي چې: په دغه دمونو سره پټ مرضونه لیرې کولی شي.النهايه في غريب الحديث:(٥/٥٤٠)

## د جادو علاج په جادو باندې په دوه ډوله دی:

د جادو علاج په دوه ډوله دي

### اول: جايز قسم:

هغه قسم دی چې په شرعي دمونو او حلالو دوايانو سره وشي، نودا قسم مستحب دی، او د قرآن او احاديثو څخه ثابت دی.

### دویم: ناروا قسم:

چې جادو په جادوگرانو باندی ختم شي، او هغوي پرې ناروا دمونه او شرکي کلمات ووايې.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

إمام ابن القيم رحمه الله وايي: د جادو علاج په دوه ډوله دی:
اول: د جادو علاج په جادو سره، همدا د شيطانانو کار دی.
دويم: هغه علاج چې په شرعي دمونو، دعاگانو او مباحو دوايانو سره وشي، نو دا جايز او مستحب علاج دی.
او په اول ناروا ډول باندې به د امام حسن بصري رحمه الله قول حمليږي چې ويلي يې دي:(لا يحل السحر إلا ساحر).(إعلام الموقعين:٤/٣٩٤)
ژباړه: جادو نه ختموي مگر جادوگر يې ختموي.

په موضوع باندې د شروع څخه وړاندې د جادو تعريف او اقسامو ته اشاره کول غواړم:

جادو په لغت کې: دهغه شيانو څخه عبارت دی، چې پټ او باريک سبب ولري، او سحر ورته ددي وجي څخه ويلي شي چې د شپې په آخره حصه کې په پټه واقع کيږي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بلیغ کلام ته هم سحر ددې وجې څخه ویل کیږي، چې په دغه کلام کې دا قدرت او طاقت موجود وي چې حقائق پټ کړي، لکه چې نبي علیه السلام فرمایلي دي:"إن من البیان لسحرا". (متفق علیه)

ژباړه: د بیاناتو څخه ځینې د جادو په څیر دي.

ابن منظور رحمه الله د إمام أزهري رحمه الله څخه نقل کوي، هغه وایي چې أزهري رحمه الله ویلي دي:( جادو داسې عمل دی چې انسان پکې شیطان ته نزدي والی حاصلوي، او د شیطان په کومک سره تر سره کیږي، داټول کارونه د جادو څخه عبارت دي،

نظربندي هم د جادو یو قسم دی، چې لیدونکی دا گمان کوي،گویا چې دا کار همدغسې دی لکه څنگه چې ورته ښکاري، او په حقیقت کې دغسې نه وي.

جادو نظربندي او هر هغه څه دي چې حقیقت یې پټ او باریکه وي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

جادو په اصل کې یوشي د خپل حقیقت څخه اړولو ته ویلی شي، ګویاچې جادوګر باطل د حق په شکل ښکاره کړو او په تخیل کې یې د خپل شکل نه په بل شکل ښکاره کړو.

په شرع کې جادو: هغه څښتونو، دمونو،غوټو ته ویلی شي، چې په زړه او بدن باندې اثر کوي، انسان ناروغه کوي، قتلوي یې، او د ښځې او خاوند تر مینځه جداوالی راولي.
الله جل جلاله فرمایلي دي:"فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ"البقرة١٠٢.
ژباړه:"نو هغوی به له دغو دواړو نه هغه څه زده کول چې په هغه سره به یې د سړي او د هغه د ښځې په مینځ کې جدایي راوستله"
الله جل جلاله د جادو او جادوګر څخه په پناه غوښتلو امر کړی دی، لکه چې فرمایې: ( وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ )الفلق:٤
ژباړه:"او له شره د هغو (جادوګرو) ښځو چې په غوټو کې پوکې وهونکې دي"
النفثات: هغه جادوګرې زنانه چې په غوټو کې پوکې کوي.


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

سحر يو حقيقي شی دی، ددې وجي څخه مونږ ته ترې د پناه غوښتلو امر شوی دی، او اثرات يې په مسحور (جادو شوي شخص) باندې ښکاره کيږي.
الله جل جلاله وايې: ( وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ)الأعراف١١٦
ژباړه:"او ډېر لوی جادو يې وکړ"
الله جل جلاله د جادو صفت په لوئ والي سره کړی دی، ځکه چې جادو يو حقيقي او اثر لرونکی شي دی، او د جادو حقيقت ددې مخالف نه دی چې جادو دي يو خيالي څيز هم شي. لکه چې الله جل جلاله د فرعون د جادوگرانو څخه حکايت کوي او وايې:
(يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ).طـه٦٦
ژباړه:" خيال ته داسې راوستی شوې چې په رښتيا دغه منډې وهي" يعني د ډېر قوي جادو د وجی نه د موسی عليه السلام په تخيل کې داسې راتلل گوياچې دا پړي ماران دي او منډې وهي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ددې نه معلومه شوه چې جادو په دوه ډوله دی:

۱/حقيقي جادو ۲/خيالي جادو

ددې څخه دا نه معلوميږي چې جادوګر دشيانو په بدلولو او تغيرولو قادر دی، څکه چې جادوګر دانسان څخه شادو، يا شادو څخه غوا نشي جوړولای.
جادوګر او جادو يې په خپله په يو شي کې اثر نشي کولای، بلکه مؤثر الله دی، که د الله کوني قدري اراده"هغه اراده ده چې واقع کيدل يې لازم وي،خو وقوع يې الله ته محبوب نه وي" موجوده شي نو تأثير کوي ګني اثر نه کوي، او کومه چې د الله شرعي اراده"هغه چې وقوع يې لازم نه وي،خو فعل يې الله ته محبوب وي" نو هغه د جادو سره هيڅ اړه نه لري، څکه چې الله جل جلاله جادو حرام کړی دی.
الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَمَا هُم بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ )البقرة۱۰۲



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ژباړه :"او په دې (جادو) سره دوی هیچا ته هم ضرر نه شو رسولی مگر د الله په حکم سره،او دوی به هغه څه زده کول چې دوی ته به یې ضرر رساوه او فایده به یې ورته نه رسوله"

ابن قدامه رحمه الله وایې: جادو هغه غوټې، دمونه، او خبرې دي چې ویلی یا لیکلی شي، دې لپاره چې د مسحور(جادو شوي شخص) په بدن، زړه، یا عقل اثر وکړي، بغیر د نزدې والي څخه مسحور ته، او سحر حقیقي اثر لري، د جادو څخه ځینې وژل کوي، انسان ناروغه کوي، یا خاوند د خپلې ښځې سره د جماع کولو نه بندوي، یا یې تر مینځه جداوالی راولي، یا یې تر مینځه کینه راولي، او یا د دوو تر مینځ مینه او محبت راولي.المغني:۱۰۴/۱۰.

هر چې د جادو علاج دی: نو په شرعي دمونو، د قرآن او احادیثو څخه ثابتو دعاگانو باندې به کولای شي.

ځکه چې قرآن کریم ټوله شفاء ده، الله جل جلاله فرمایلي دي: ( وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ)الإسراء۸۲

ژباړه:"او مونږ قرآن نازلوو هغه چې د مومنانو لپاره شفا او رحمت دی او ظالمانو ته نه زیاتوي مگر تاوان"



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او په بل ځاي کې وايي:(قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ).فصلت٤٤
ژباړه:"ووايه: دغه (قرآن) د هغو کسانو لپاره چې ایمان یې راوړی دی؛ هدایت او شفا دی"

هغه اياتونه او سورتونه چې د جادو په علاج کې خاص دي، ځيني يې په لاندې ډول دي:

١- سورة البقرة لوستل: په صحيح مسلم کې روايت دی، نبي ﷺ فرمايلي دي: ((اقْرَؤُوا سُورَةَ البَقَرَةِ، فإنَّ أخْذَها بَرَكَةٌ، وتَرْكَها حَسْرَةٌ، ولا تَسْتَطِيعُها البَطَلَةُ))صحيح مسلم٨٠٤
ژباړه: سورة البقرة ولولئ، ځکه چې دسورة البقرة لوستل برکت دی، او پريښودل يې پښيمانتيا ده، او ساحران خلک يې د ويلو څخه عاجز دي.
معاوية رضي الله عنه وايي: ماته رارسيدلي چې (البطلة) څخه مراد جادوګران دي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۲- سورة الفاتحه لوستل:

خارجه بن الصلت التميمي د خپل کاکا څخه روايت کوي، چې هغه د نبي عليه السلام خواته راغلی او اسلام يې راوړ، بيا د نبي عليه السلام له خوا څخه واپس شو، نو په يو قوم باندې تيريدلو، هغوی سره يو سړی وو، چې د اوسپنو په ځنځيرونو تړل شوی وو، دغه قوم وويل چې: مونږ ته ويل شوي دي چې ستاسې دا ملګری (محمدﷺ) خير راوړی دی، نو آيا تاسې سره کوم دم شته چې داسړی پرې دم کړئ؟

نو په سورة الفاتحة مې دم کړ،او هغه روغ شو، په بدله کې يې ماته سل ۱۰۰ ګډې راکړې، بيا نبيﷺته راغلم او په قيصه مې خبر کړ، نبي ﷺ راته وويل: چې صرف سورة الفاتحة دې پرې ولوستله؟

او مسدد په بل روايت کې وايي: آيا تا د سورة فاتحې څخه بغير نور څه ويلي دي؟

ما ورته وويل چې: نه، نبی عليه السلام وويل: داګډې واخله، زما دې د خپل عمر په رابښونکي قسم وي،يو کس چې په باطلو دمونو



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

خوراک کوي نو ته خو ډېرحقدار یې چې په حق دم (قرآن) باندې دم او خوراک وکړي.

همدغه صحابي وايي چې: په سورة الفاتحة مې درې ورځې سهر او ماښام دم کړو، هر کله چې به مې سورة الفاتحة ولوستله، خپلې لاړې به مې راجمع کړلې او تف به مې کړلې، بیا داسې روغ شودگویاچې د پړو څخه آزاد شوی وي.أخرجه ابو داؤد برقم:۳۸۹۷

## ۳- معوذتان (سورة الفلق او سورة الناس) لوستل:

حدیث کې راځي: (فلعل طباً أصابه، ثم نشره، بــ:قل أعوذ برب الناس)عون المعبود کتاب الطب:۱۰/۲٤۹

ژباړه: شاید چې هغه باندې جادو شوی وي، نو په سورة الناس یې دم کړو.

طَب: جادو ته ویلی شي، او دا ورته د نیک پالی د وجی نه وايي.

هغه څه چې الله جل جلاله په خپل رسول نازل کړي دي هغه د جادو په ختمولو کې ډېرفایده مند دي،او هغه معوذتان دي،حدیث



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

کې هم راغلي دي (ولم يتعوذ المتعوذ بمثلها). أخرجه الطبراني في الدعاء برقم:٩٨٠) ، واخرجه مسلم بلفظ لم ير مثلهن قط:١/٥٥٨
ژباړه:"يو پناه غوښتونکي د معوذتينو (سورة الفلق_سورة الناس) په شان (په بل څه باندې ډېره اثرناکه) پناه نده غوښتې"

**۴- د آية الكرسي لوستلو سره هم شيطانان شړل کيږي:**

لکه څرنګه چې د ابو هريرة رضي الله عنه په قيصه کې راغلي دي، کله چې نبي عليه السلام أبو هريرة د زكات د مالونو په حفاظت باندې وټاکو، په دغه حديث کې راغلي: (إذا أويت إلى فراشك فاقرأ أية الكرسي فإنه لن يزال عليک من الله حافظ ولا يقربک شيطان حتى تصبح)أخرجه البخاري٢١٨٧.
ژباړه:"کله چې ته خپلې بسترې ته راشي آية الكرسي ووايه، ځکه شان دادی چې هميشه به د الله له طرفه په تا باندې يو حافظ او ساتونکی(ملايک) مقرر شي، او شيطان به تر سهاره تاته نشي نيزدې کيدلی.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

همدارنګه هغه ټول اياتونه لوستل چې قرآن کريم کې د جادو په اړه راغلي دي، ځکه چې دغه آياتونه د الله په حکم سره د جادو څخه نجات ورکوونکي دي.

همدارنګه په شرعي دعاګانو باندې دم د انسان لپاره د روغتيا او عافيت سبب دی.

شيخ ابن باز رحمه الله ويلي دي: هر چې د جادو علاج دی، نو په شرعي دمونو او مباحو دوايانو سره به کولای شي، د مسحور لپاره ډېر فائده مند علاج د پوک سره سورة الفاتحة لوستل، آية الكرسي، او هغه آيتونه لوستل چې په سورة الأعراف، يونس، طه کې د جادو په اړه راغلي دي،آخرې څلور سورتونه لوستل، مستحبه طريقه دا ده چې داسورتونه درې درې ځلې ولوستل شي، بيا ورپسې هغه مشهوره دعاء درې ځلې لوستل چې نبي عليه السلام به د ناروغو لپاره غوښتله، دعاء په لاندې ډول ده:

(اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ أَذْهِبْ الْبَاسَ واشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا )



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او همدارنګه هغه دعاء درې ځلې لوستل چې جبریل علیه السلام به پرې محمد ﷺ دمولو،دعاء په لاندې ډول ده:
(بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ،مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ)
دا دعاء دالله په حکم سره ډېره فائده منده دعاء ده چې انسان پرې علاج وکړي.
او يو علاج يې دا هم دی چې هغه وړې، پړي يا نور شيان چې د جادو کيدلو شک پرې کيدای شي ختم شي، او په مسحور باندې دوامداره دمونه، او دادعاء درې ځلې ولوستل شي: (أَعُوذُ بِكلِمَاتِ الله التَّامّاتِ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ)
همدارنګه سهر او ماښام درې درې ځلې آخرني درې سورتونه لوستل، د مانځه ښخه وروسته او د وده کيدلو په وخت آية الكرسي لوستل.
او مستحبه طريقه دا هم ده چې د سهر او ماښام په وخت دا دعاء (بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

السَّمِيعُ الْعَلِيْمُ) درې ځلې ولوستل شي، ځکه چې داټولې دعاګانې د نبي ﷺ څخه ثابتې دي.

په الله جل جلاله به نیک ګمان کیدلی شي، او دا عقیده به لرلی شي ،چې الله رب العزت د اسبابو هموارونکی دی، او په دې وجه چې الله ناروغو ته شفاء ورکوي، او دا دعاګانې فقط اسباب دي، او شفاء ورکونکی صرف د الله ذات دی، اعتماد به صرف په الله جل جلاله کیدلی شي، او په اسبابو به فقط اعتماد نشي کیدلی، او په اسبابو به داسې عقیده لرلی شي،که چرته د الله خوښه شوه نو ددې اسبابو په واسطه به فائده حاصله شي، او که ونه غواړي نه حاصلیږي، ځکه چې د الله جل جلاله په هر کار کې خپل حکمت وي، الله په هر څه قادر دی، په هر څه پوهه دی، څه چې ورکوي څوک يې منع کولی نشي، او څه چې منع کوي څوک يې ورکولی نشي، او نه يې څوک فیصله ردولی شي، هغه بادشاه او په هر شي قادر دی.مجموع فتاوی ومقالات الشیخ ابن باز:(٨١/٧_٨٣)



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ځینی کسانو جادوګرو ته دجادو دعلاج په خاطر دتللو لپاره په کمزورو او فاسدو دلایلو او شبهاتو باندی استدلال کړی دی،کوم چی دذکر شوو نصوصو په وړاندی هیڅ حیثیت نلری، چی ځینو ته یی زه په لاندی ډول سره دجوابونو اشاره کوم:

اوله شبهه: دعایشي رضي الله عنها څخه نقل دي، هغه وايې: کله چې لبید بن الأعصم یهودي په نبي ﷺ جادو وکړو، ما نبي ﷺ ته وویل چې: ایا ته نشره نه کوي؟ نبي ﷺ وویل: ماته الله شفاء راکړه، او زه دا بده ګڼم چې په خلکو کی دجادو شر راوپاروم.متفق علیه

بیا دوی د امام شعبي رحمه الله په قول استدلال کوي چې هغه ویلي دي: په دي حدیث کي دنشري جواز راغلی دی، ځکه چې نبي علیه السلام په عایشي رضی الله عنها رد ونه کړو نو دا دجواز دلیل شو.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ددې شبهې نه په دوو طریقو سره ځواب:**

**اوله طریقه:** داصولینو په نیزد باندې یو اصل دادی چې کله دوه روایات مختلف راشي نو د دواړو په منځ کې به جمع کولی شي،او ټول روایات به په یوه معنی حملولی شي، او دعایشې رضی الله عنها حدیث په مختلفو روایاتو نقل دی، چې په ظاهره ترې اختلاف معلومیږي.

په صحیح مسلم کی په لفظ ( أفلا أحرقته: ایا سوځولو دې نه؟ ) او دامام احمد بن حنبل رحمه الله سره په لفظ د (أفأخرجته یا استخرجته ) سره نقل دی چې معنی یې ده: ایا راویستلو دې نه؟ او یا ته یې دا راویستلو غوښتنه نه کوې؟

او دامام بخاري رحمه الله سره په لفظ ( أفلا: أي تنشرت: ایا ته یې نه سپړې؟ ) سره نقل دی.

ددې حدیث ټول دارومدار په هشام بن عروه دی.

ابن بطال رحمه الله ویلي دي: اعتبار دسفیان رحمه الله روایت لره دی،چې د هغه په روایت کې راغلي دي چې عایشه رضی الله عنها



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دنشري په هکله پوښتنه کړی وه، ځکه چې سفيان په ټولو رواياتو کی قوي ضبط والا دی، او دهغه زيادت مقبول دی.
امام ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ليکلي دي: امام سفيان چی ويلي دي: ايا ته نشره نه کوي؟ شايد چی هغه ته لفظ ياد نه ؤ، نو روايت بالمعنی يې وکړ،او ښکاره معنی دلفظ نشره ده.
او دا هم احتمال لری چی دغه لفظ دي د(نَشَر) څخه شي چې په معنی د "ويستلو" سره راځي نو بيا به دنورو الفاظو سره برابر راشي چې هغوی په لفظ ( فهلا أخرجته) سره نقل کړی دی يعني هغه پوستکی راوباسي په کوم کې چې جادو ؤ.
ځکه چی نشر په معنی د ويستلو هم راځي نو غوره داده چې ټول مختلف اللفظ روايات په يوه معنی حمل شي، او هغه معنی داده چې د عائشة رضی الله عنها سوال دهغه پوستکی د راويستلو په هکله ؤ په کوم کې چې جادو ؤ، او بيا ددغې جادو خلکو ته ښکاره کولو په هکله ؤ،بيا دجادو راويستل په دوه قسمه دي:
۱/چې ثابت وي. ۲/چې ثابت نوي.
کوم چې ثابت دي:هغه د کوهي نه دجادو راويستل دي.


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

کوم چې نه دي ثابت:هغه دهغه پوستکی راویستل دي،چې په کوم کې جادو ؤ،او دهغې خلکو ته ښکاره کول دي، او دهمدې په هکله عایشه رضی الله عنها پوښتنه کړې وه.
او پدې کې راز دا ؤ چې خلک یې ونهویني،څکه هغه خلک به یی زده کړې، چی دجادو کولو اراده لري.(فتح الباري_٢٣٤/١٠)

امام شوکاني رحمه الله ویلي دي: د راوی قول ( أفأخرجته ) په بل روایت کې راځي ( افلا أخرجته) او بل کې راځي ( أفلا أحرقته )
إمام نووي رحمه الله وایي چې ټول صحیح دي،څکه ویل کیږي چې عایشه رضی الله عنها د نبي علیه السلام نه وغوښتل چې دا جادو راوباسي او بیا یې وسیځي، نبي ﷺ ورته خبر ورکړ، چې الله ورته شفاء ورکړي ده او نبي ﷺ دجادو د سیځلو،راویسلتو او په خلکو کې دخپرولو دشر او ضرر څخه ویریدلو،چې دجادو ذکر وکړي،یا پکې خبرې وکړي،یا دجادو بدي بیان کړي، نو دمنافقانو څخه به ځیني دجادو خوښونکي په خلکو باندې دجادو کولو او تکلیف رسولو باندې بار کړلی شي، او په مسلمانانو باندې


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

به په تهمت لګولو بار کړلی شی، نو دغې فساد د رامنځ ته کیدو او د مصلحت د وجي نه دا کار پریښودلی شو،ځکه چی د داسې کار پریښودل د اسلام د مهمو قواعدو څخه یوه اهمه قاعده ده ،او پدې قاعدي باندې د هغه کسانو جواب هم کیدای شي،چې دجادوګر دقتل جواز نه ورکوي، ځکه چې نبي علیه السلام هغه جادوګر قتل نه کړو چی په هغه یې جادو کړی ؤ او ددې فتني د ویري نه نبی علیه السلام د کوهي څخه د جادو راویستل پریښودل، نو غوره داده چې د جادوګر قتل هم پریښودلی شي، ځکه چې پدې کې غټه فتنه وجود لرلی شي.(نیل الأوطار للشوکاني:۷/۲۰٤)

بیا دا هم ویلی شو چې آیا دا عقل مني چې عایشه رضي الله عنها دي نبي علیه السلام ته د جادوګرانو په تګ او په پناوړلو مشوره ورکړي؟او حالانکې هغې ته دالله دا وینا معلومه وه، چې الله ویلي دي: (ولقدعلموا لمن اشتراه ما له فی الاخرة من خلاق).(البقرة:۱۰۲) ژباړه:" او یقینًا دوی په دې پوه وو چې چا دا (سحر) واخیسته، نو د هغه لپاره په اخرت (جنت) کې هیڅ برخه نشته"


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او د نبي عليه السلام دا وينا ورته هم زده وه چې ويلي يې دي:
(اجتنبوا السبع الموبقات) د اووه هلاکونکو شيانو څخه ځان
وساتئ چی يو پکې جادو دی.
نو آيا دا عقل مني چی عايشه رضي الله عنها دي د دي امت رسول
محمد ﷺ ته د جادوگرانو په تگ او پناه وړلو مشوره ورکړي او
حالانکې نبي عليه السلام دجادو او جادوگرانو ته دتگ کولو
څخه منع کړي ده؟
نو غوره دا ده چې دسفيان رحمه الله په حديث کې کومه نشره
راغلي ده،د دلايلو د موافقت د وجي نه دجادو په راويستلو حمل
شي او دا حمل دالله په فضل ممکن دی.
دوهمه طريقه: که مونږ دا ومنو چې د عايشه رضي الله عنها سوال
جادوگرانو ته دتللو په هکله ؤ او د نبي عليه السلام څخه تقريراً د
نشري اثبات وشو، نو بيا هم په جواز دلالت نه کوی، ځکه چې
ددې روايت سره ډير صريحه نصوص په تعارض کې راځي، چې
ددغې نصوصو څخه جادوگرانو ته دتگ،او دهغوی نه پوښتني
کولو او دهغوی تصديق کولو حراموالی معلوميږي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او همدارنګه ورسره د جابر رضي الله عنه حديث هم په ټکر کې راځي چې امام احمد او امام ابو داؤد رحمها الله راوړی دی، چې د نبي عليه السلام نه د نشري په هکله پوښتنه وشوه، نبي عليه السلام په جواب کې وويل: نشره دشيطان دکارونو څخه ده.

نو څرنګه به هغه اياتونه او احاديث چې دجادوګرانو په کفر اوړهغوی ته دتګ څخه دځان ساتلو او پوښتني کولو څخه پکی منع شوی ده، پريږدو!!

او د دې حديث د وجي نه جادوګران په ځمکه کې فساد کونکي دي.

سره ددې چې پدې حديث کې د حرامي نشري دليل هم نشته، او د نبي ﷺ دشان سره هم دا نه ښايي چې جادوګرانو ته د علاج او نورو کارونو لپاره په تګ کولو تقريراً جواز ورکړي.

او همدارنګه د عايشي رضي الله عنها دشان سره هم دا نه ښايي چې نبي عليه السلام ته ددجادوګرانو په تګ کولو مشوره ورکړي، دا کار شرعاً او عقلاً دواړه ناممکن دی.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دوهمه شبهه: هغه دعلاج لپاره تلل دي:

دليل يې دا دی چې امام بخاري رحمه الله د امام قتادة رحمه الله قول راوړی دی هغه ويلي دي : ما سعيد بن المسيب رحمه الله ته وويل چې يو سړي باندې جادو شوی وي يا د خپلې ښځې د نزدې والي څخه بند شوي وي، آيا د هغه نه به جادو سپړلی شي؟ هغه وويل چې دا کار باک نه کوي، ځکه چې دا خو جادوګران داصلاح لپاره کوي او کومه نشره چې فايده ورکوي د هغې څخه منع نده شوې.

ددې جواب دا دی چې د ابن المسيب دجواز څخه مراد مشروع دمونه يا هغه نشره ده چې دشرکياتو څخه خالي وي، ځکه چې شرعي دعاګانې ويل فايده مندي دي چې دنيوي او اخروي ضرر ورسره نه پيوسته کيږي، او نبي ﷺ د جادو دسپړلو اجازه صرف په شرعي دمونو او مباحو دوايانو سره ورکړې ده، لکه چې حديث کې راځي:( فلعل طَبّاً اصابه ثم نشره بـ قل اعوذ برب الناس).
ژباړه: شايد چې په هغه جادو شوی وي، بيا يې په سورة الناس دم کړو.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او همدارنگه نبي ﷺ صحابه کرامو ته وویل: ( اعرضوا علي رقاکم، لا بأس بالرقی ما لم تکن شرکاً)
ژباړه: خپل دمونه راته پیش کړئ، ترڅو چې پکې شرکي کلمات نه وي،دمونه کول پرې پروا نه کوي.
او هر چې دابن مسیب رحمه الله کلام دی چې د جادو په جادو ختمولو په جواز دلالت کوي، نو په جواز حملول صحیح نه دي، او که صحیح هم شي نو د هغه په قول باندې عمل نشي کیدی، ځکه دړهغه قول د قران او حدیث د نصوصو سره په ټکر او تعارض کې واقع شوی دی، او دهر عالم قول به کله راخستلی شي او کله به پریښودلی شي، مگر د رسول الله ﷺ قول به همیشه راخستلی شي او عمل به پرې کیدلی شي،او مونږ د قران او سنت منونکي یو ،کله چې د ائمو اقوال د شرعي نصوصو سره مخالف راشي مونږ یې منونکي نه یو.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

شيخ سليمان بن عبدالله رحمه الله ويلي دي:
د ابن المسيب رحمه الله کلام به په يو قسم د نشري حملولی شي، معلومه نه ده چې دي نشري کې دجادو کوم قسم شته او که نه؟ يا خو دا ده چې ابن المسيب جادوگر کافر ته، چې په شرعه کې يې د قتل امر شوی دی، د هغه په اراده دجواز فتوی ورکړي،چې په خپل جادو عمل وکړيــ خو دا گمان په هغه نشي کيدای ــ او پدې خبره د هغه دا قول دلالت کوي چې ويلي يې دي:"همدا جادوگران پدې جادو سپړلو سره د اصلاح اراده لري خو زه دا وايم چې په جادو کې کومه اصلاح ده؟ بلکې ټول فساد او کفر دی، والله اعلم.(تيسير العزيز الحميد في شرح كتاب التوحيد:١/٣٦٦).

دريمه شبهه: دا ده چې امام احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل شوي دي چې د هغه څخه چا د جادوگر په هکله پوښتنه وکړه چې د مسحور نه جادو ختموي، امام احمد وويل: ځينو خلکو ددې کار جواز ورکړی دی.

خو د هغه دا قول به په مباحه نشره حملولی شي چا چې په حرامه او سحری نشره حمل کړی هغوی خطا شوي دي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

شیخ سلیمان بن عبدالله رحمه الله ویلي دي: "څوک چې دا گمان کوي چې امام احمد د سحري نشري جواز ورکړی دی، هغوی خطا شوي دي، او نه د هغه په قول کې داسې څه شته چې په جواز دلالت وکړي، بلکې کله چې د هغه څخه د هغه چا په هکله پوښتنه وشوه چې جادو ختموي ، هغه وویل: ځینې خلکو ددې کار جواز ورکړی، بیا امام احمد ته وویل شو چې دغه جادوگر خو د پیتلو په کتوۍ کې اوبه اچوي او هغه پکې ورکي شي؟ امام احمد لاس وڅنډو او وي ویل:ماته پته نشته چې دا څه شی دي؟ بیا ورته وویل شول: ایا ته ددې جواز ورکوي چې دغسې کار وکړی شي؟ هغه وویل: چې ماته پته نشته چې دا څه شی دي.

او څنگه به یې جواز ورکړی وی حالانکې هغه د نبي علیه السلام دا حدیث روایت کړی دی،چې نبي علیه السلام ویلي دي: (إنها من عمل الشیطان) دا نشره خو د شیطان د کارونو څخه یو کار دی.

لیکن هر کله چې د نشري لفظ د جایزي او ممنوعي نشري تر منځ مشترک دی،او دوی دا گمان کړی دی چې امام احمد د هغه نشري جواز ورکړی کومه چې د شیطان د کارونو څخه یو کار دی خو



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

امام احمد د داسې فتوي څخه ډير لري دی.(تيسير العزيز الحميد في شرح كتاب التوحيد:١/٣٦٨)

څلورمه شبهه: دوی وايي چې جادو په جادو سپړل د اضطراري حالت لاندي راځي:

او ددې ايت څخه معلوميږي چې الله ويلي دي: (وقد فصل لكم ما حرم عليكم الا ما اضطررتم اليه). الأنعام١١٩

ژباړه:"او يقينًا هغه (الله) تاسو ته هغه څه واضح كړي دي چې پر تاسو يې حرام كړي دي، سِوا له هغه نه چې تاسو هغه ته مجبور كړی شئ"

خو د دوی دا استدلال فاسد دی او هيڅ اعتبار نلري ځكه چې اصولينو د دې قاعدي لپاره خپل شروط او ضوابط ايښودلې دي، بايد هغه شروط پكې موجود او برابر شي، يو د هغه شروطو څخه اهم شرط دا دی چې: (أن يكون ارتكاب المحظور أخف من وجود الضرر).(شرح الكوكب المنير:٤/٤٤٤ - التحبير شرح التحرير:٨/٣٨٤٧- شرح القواعد الفقهية:١/١٨٥)



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

مطلب:دحرام شوي شي استعمال به د شته ضرر څخه کم او معمولي وي، نو هله به دغه حرام تر سره کولی شي، او پدې کې شک نشته چې جادو کې ډیر ضرر موجود دی ځکه چی جادو کفر او شرک دی.او بله دا چې د جادو علا ج خو په شرعي دمونو او مباحو دوایانو سره هم کیدلی شي، نو دغی قاعدي باندې استدلال کولو ته هیڅ حاجت نه پیدا کیږي.

په سعودي عربستان کی د علمي بحثونو او فتوی ورکولو کمیتۍ په یو بیان کې د علاج لپاره جادوګر ته د تګ د حکم په هکله لیکلي دي: (الضرورات تبیح المحظورات) مطلب د ضرورت پر مهال حرام مباح ګرځي، پدې قاعدي د جادو په جادو سپړلو جواز ورکول صحیح نه دي، ځکه چې ددې قاعدي د شروطو څخه یو شرط دادی چې د حرام شي د استعمال نقصان به د ضرورت څخه کم وي، لکه څرنګه چې دا قاعده داصولیینو علماؤ څخه ثابته ده،او هر کله چې جادو کفر او شرک دی، نو دا جادو غټ ضرر او نقصان دی، د نبي علیه السلام دا قول پرې دلیل دی چې ویلي یې دي: ( لا بأس بالرقی ما لم یکن فیها شرك)أخرجه مسلم.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ژباړه:"چې په دمونو کې شرکي کلمات نه وي، بيا پرې دم کول باک نه کوي،او بله دا چې د جادو علاج په شرعي دمونو سره هم کيدای شي نو کفر اوشرک ته د سره حاجت نه پيدا کيږي، له دي څخه دا هم ثابته شوه چې جادوګرانو ته په هيڅ حال کې تګ جايز نه دی، اګر که دجادو دعلاج لپاره ولې نه وي.(جزء من بيان صدر من اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء برقم: ٢٣٦٢١ وتاريخ:٢٩/٦/١٤٢٧هـ ق)

بيا دا خبره هم په ياد لرل پکار ده چې علاج کول د ضروري شيانو څخه نه شميرل کيږي او نه د علاج کولو په پلمه حرام شيان حلاليږي:

شيخ محمدبن صالح العثيمين رحمه الله ويلي دي:(الضرورات تبيح المحظورات) مطلب: د ضرورت پر مهال حرام مباح ګرځي،او هر چې د دوايانو سره تعلق لري نو ځينې خلک دا ګمان کوي چې پدې قاعده کې دوايانې هم داخلي دي، او د ضرورت په وخت کې انسان ته په حرامو تداوي هم جايز ده، ليکن دا ګمان او جواز ورکول د هغوی غلط اوخطا دي، ځکه چې په يقين او جزم سره په دوايانو ضرر نه لرې کيږی،او کله کله انسان دوايانو ته حاجت



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

هم نلري او مریض ته بغیر دکوم تداوي او علاج شفاء حاصله شي، هر چې اول قسم دی نو ډیرو انسانانو په مفیدو دوایانو علاج کړی خو هیڅ فایده یې نه ده ورکړې،او هر چې دویم قسم دی نو ډیرو انسانانو دوایې او علاج پریښودی خو بیا هم ورته الله بغیر ددوائي شفاء ورکړې ده.(فتاوی نور علی الدرب:التفسیر:انظر موقع الشیخ"الفتاوی النصیة")

شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله په هغه کسانو چې په حرامو شیانو د علاج کولو جواز ورکړی دی،رد کوي او وایي: هر چې د دغه شي د ضرورت لپاره اباحت دی نو صحیح دی،لیکن د ضرورت د وجې نه پرې دوایې کول د څو وجوهو نه صحیح نه دي:

۱- اکثره مریضانو ته بغیر د علاج کولو څخه شفاء حاصلیږي، او الله ورته شفاء ورکوي،د طبیعي قوت په سبب چې الله ورته په بدن کې پیدا کړی دی، او په سبب د هغه عمل او حرکت چې الله ورته اسان کړی دی، یا په قبوله شوي دعا،یا په فایده مند دم، یا په الله باندې د قوي توکل له وجې، او یا ددې څخه بغیر په ظاهري او باطني، روحاني او جسدي اسبابو سره ورته الله شفاء ورکړې ده.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۲- علاج کول واجب نه دي،او که څوک پدې علاج کولو کې جنگ و جدل کوي، نو احاديثو سره په ټکر کې راځي، ځکه چې نبي عليه السلام هغه توري زنانه ته اختيار ورکړی ؤ چې په خپل مصيبت صبر وکړي او جنت ته به ننوځي، او يا به ورته نبي عليه السلام دعا وکړي نو د الله په فضل سره به روغه شي،نو دغه زنانه په خپل مصيبت صبر او جنت اختيار کړو،او د نبي عليه السلام نه يې دعافيت دعا ونه غوښتله،که د مصيبت لري کول واجب وی، نو نبي عليه السلام به دغه زنانه ته اختيار نه ؤ ورکړی،همدارنگه د مصيبت زده پيغمبرانو حال ددغه شخص دنظر سره په ټکر کې راځي چې هغوی(پيغمبرانو) په خپلو مصيبتونو صبر کړی ؤ، او د لري کولو اسباب يې استعمال کړي نه ؤ، لکه ايوب عليه السلام او نورو سلفو صالحينو کومو چې په مصائبو صبر کړی ؤ.

۳- په دوائي به مکمل يقين نه شی کيدلی ځکه ډير مرضونه داسې شته چې علاج نه لري، او که دا (تداوی او علاج کول د هر مرض او په هغې سره ښه کيدل) عامه قاعده شي، نو يو سړی به هم مړ شوی نه وی.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۴- د یو مرض لپاره مختلفي دواياني شته،او دا نامکنه ده چې په حلالو شيانو کې دي د یو مرض لپاره علاج شتون ونه لري، بلکې کوم ذات چې مرضونه پيدا کړي دي، هماغه ذات د مرگ نه بغير د هر مرض لپاره علاج هم پيدا کړی دی، او دا جايز نه دي چې په حرامو شيانو دې د مرضونو لپاره علاج او تداوي وکړی شي، همدغه ذات لره پاکي ده چې زيات مينه کونکی او مهربان دی.

يو حديث کی راځي (إن الله لم يجعل شفاء امتي فيما حرم عليها).ژباړه:"الله جل جلاله زما د امت شفاء په حرامو شيانو کې نه ده ایښودلې.(مجموع الفتاوی:۲۱/۵۶۳)



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بیا د جادو په جادو سپړلو د جواز ورکولو څخه ډیر باطل کارونه منځ ته راځي لکه جواز ورکول هغه چاته چې څوک دجادو زده کولو اراده لري.

پدې پلمه چې چا باندی جادو شوی وي،هغه ترې ختم کړي ، بلکې د جادو زده کول به په امت باندې فرض کفائي متعین کړی شي او دا خبره باطله ده.

دمعتبرو علماؤ څخه یو هم دا قول نه دی کړی، او ددې جواز ورکولو څخه دا هم ثابتیږي چې په جادوګرانو کې د الله په نیزد ځینې مصلحین او اجر ګټونکي شته دی،دا هغه کسان دي چې جادو ختموي، او ځینې پکې مفسدین او د عذاب مستحقین شته دی،دا هغه کسان دي چې جادو کوي، بیا که جادو چا د ضرر لپاره زده کړو نو حرام شو، او که چا د فایدي لپاره زده کړو نو مستحب شو،او دا خبره د الله ددې اطلاق او عموم چی په جادوګرانو یې فیصله کړي ده خلاف راځي، لکه چې الله جل جلاله وایي: (ولا یفلح الساحر حیث أتی).(طه ٦٩)

ژباړه:"او جادوګر بری نه مومي هر چیرته چې راشي"

په بل ځای کې وایي:( ولا یفلح الساحرون).(یونس ٧٧).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ژباړه:"حال دا چې جادوگر خو برى نه مومي"
په بل ځاى کې وايي: ( قال موسى ما جئتم به السحر إن الله سيبطله إن الله لا يصلح عمل المفسدين).(يونس۸۱)
ژباړه:"موسىٰ وويل: هغه څه چې تاسو راوړي دي، واقعي جادو دى، بېشکه الله به يې ژر تباه (بې اثره) کړي، بېشکه الله د فساد کوونکو کار نه جوړوي"
په دې ايتونو کې الله جل جلاله دجادوگرانو څخه کاميابي او فلاح په عام او مطلق نفي سره منفى کړى دى، لکه څرنگه چې ددې خبرى اثبات مخکې وشو، او الله جل جلاله د جادوگرانو صفت په فساد کونکو سره کړى دى،او ددوى څخه يې يو هم جلا کړى نه دى، او نه يې د دوي دجادو څخه سه څيز جلا کړى دى.
يو بل لوى او ډير خطرناک کار چې ددې جواز څخه په لاس راځي،هغه دا دى چې جادوگر ته تلونکى شخص به يا د جادوگر په شرک کولو د الله جل جلاله باندې راضي وي نو هله به ورته د دغه جادوگر جادو شفاء ورکړي،او يا به دا تلونکى شخص جادوگر پدې مجبوروي چې د الله جل جلاله سره شرک وکړي، تر


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

څو دغه (تلونکي شخص) لپاره جادو وکړي، او دا کار د هغه مشرکينو د شرک نه دی چې الله ويلي دي:(وأنه كان رجال من الانس يعوذون برجال من الجن فزادوهم رهقا).(الجن:٦)

ژباړه:"او بې شکه شان دا دی چې په انسانانو کې ډېر داسې سړي ؤ چې په پېريانو کې په ځينو سړيو پورې به يې پناه نيوله، نو دغو خلقو دغو (پېريانو) ته سرکشي ورزياته کړه"

خو دغه تلونکی شخص جادوگر ته په ژبه داسې نه وايي چې ته په الله جل جلاله شرک وکړه، ليکن دده حال پدې دلالت کوي چې جادوگر دي په الله جل جلاله شرک وکړي،ځکه چې د الله سره دشرک کولو څخه بغير يو جادو هم شتون نه لري،لهذا کله چې دغه مسحور جادوگر ته لاړ شي،نو نه د هغه په جادو رد کوي او نه يې ترې منع کوي، بلکې مخې ته يې کيني په داسې حال کې چې جادوگر د الله نه ماسوا د بل چا څخه مدد غواړي، او په پيريانو کې د خپلو ملگرو څخه مدد غواړي او فايده ترې اخلي لکه چې الله جل جلاله ويلي دي:(ويوم يحشرهم جميعا يا معشر الجن قد استكثرتم من الانس وقال اولياؤهم من الإنس ربنا استمتع بعضنا



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ببعض وبلغنا اجلنا الذی اجلت لنا قال النار مثواکم خالدین فیها الا ماشاءالله ان ربک حکیم علیم).(الأنعام:۱۲۸)

ژباړه:"او په هغې ورځ کې چې هغه به دوی ټول راجمع کړي (او ورته وبه وايي:) ای د پېريانو ډلې! يقيناً تاسو له انسانانو څخه ډېر راخپل (او بې لارې) کړل او د دوی هغه دوستان به، چې له انسانانو څخه دي؛ ووايي: ای زمونږه ربه! زمونږه ځينو له ځينو نورو نه فايده واخيسته او مونږ هغې نېټې ته ورسېدو کومه چې تا زمونږ لپاره مقرر کړې وه، وبه وايي (دوی ته الله) ستاسو ځای اور دی، چې په هغه کې به همېشه يئ مگر هغه چې الله وغواړي، بېشکه ستا رب ښه حکمت والا، ښه پوه دی"

نو ايا پدې لوی شرک به د مؤمن نفس خوشحاله شي؟او يا به مؤمن دخپل بدن شفاء دزړه په خرابيدو او د دين په تللو او ختميدلو وغواړي؟

نو بيا توحيد څه شو؟او بيا دشرک او مشرکينو څخه بې زاري څه شوه؟ او څه شو هغه خلک چې پدې دومره لوی خطر سره هم جادوگر ته دتللو جواز ورکوي؟ او سره له دې دومره باطلو کارونو



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

هم جواز ورکوي، چې یوه فتوی هم ددې کارونو دکولو څخه خالي نه ده.(کلام نفیس للشسخ الدکتور عبدالعزیز السعید نشر فی الصحف وفی ملتقی اهل التفسیر)

او دا بحث به زه پدې خبرو ختم کړم چې ځیني علماؤ ته د جادو په جادو سپړلو د حکم په هکله یو څه ووایم،یو ددغه خبرو څخه د شیخ محمد الامین شنقیطی رحمه الله قول دی چې ویلي یې دي:

"پدې مسئله کې هغه پلټنه چې اوړیدل ترې نه کیږي،هغه دا ده چې کچرته دجادو راویستل په قرآن لکه معوذتین،ایت الکرسي وغیره نورو شرعي دمونو سره وشي نو پدې کې هیڅ مانع نشته،او کچرته په جادو یا عجمي الفاظو،او یا به بې فهمه کلماتو، یا په نورو شیانو چې حرام وي پدې سره د جادو ختمولو کوشش وشي نو بیا دا کار ممنوع دی،لکه څنګه چې ته پوهیږي دا خبره بالکل واضحه ده، ان شاءالله همدا حق ته رسیدونکي خبره ده.(أضواء البیان:٤/٥٧)



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

شیخ حافظ حکمي رحمه الله ویلي دي:

وحله بالوحي نصا یشرع أما بسحر مثله فیمنع

وحله: یعنی د مسحور نه په شرعي دمونو سره او معوذاتو او په دعاګانو سره جادو ختمول.

الوحي: چې کتاب اوسنت دی.
نصا: یعني په نص شرعي سره.

یشرع: یعني مشروع کیدلی شي، لکه څرنګه چې جبریل علیه السلام نبي علیه السلام په معوذتینو دم کړی ؤ او همدارنګه په هغه دمونو دم کول چې احادیث پرې شامل وي،دم مشروع کیدلی شي، بیا یې ویلي دي: هر چې د مسحور نه جادو په جادو ختمول دي نو دا کار حرام دی ځکه دا کار د جادوګرانو سره د هغوی په جادو کې مرسته کول دي، او د هغه د عمل لپاره اقرار او ثبوت دی، او



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

شیطان طرف ته پکې یو قسم نزدي والی دی، ددې لپاره چې دغه شیطان د مسحور نه جادو لرې کړي،ددې وجي نه امام حسن بصري ویلي دي:

جادو نه سپړي مګر جادوګر یې سپړي،او نبي علیه السلام هم دنشري په هکله ویلي دي: نشره دشیطان کار دی، ددې وجي نه په هغه زمانه کې چې د جادوګرانو څخه توره اوچته شوي،سزاګانې ترې لرې شوي، هغوی په هغه چا دجادو اراده کړي چې خوښ یې وي ، یا یې ورسره بغض وي، ددې لپاره چې خلک دې ته مجبوره کړي چې دجادو د خلاصولو غوښتنه ترې وکړي،او د خلکو مالونه په باطلې طریقې سره وخوري،او دخلکو په مالونو او دینونو غالبه شي، الله څخه ددې کار نه عافیت غواړو.(معارج القبول:۲/۵٦۵)

امام محمد بن ابراهیم رحمه الله دحنابلو څخه د ځینو کسانو په قول باندې رد کوي او وايي: ځینو ویلي دي د ضرورت د وجي نه د جادو په جادو سپړل جائز دي، او د حنابلو دویم قول دادی: چې دغه کار نا جائز دی، او همدا قول صحیح دی، او حقیقت یې دا دی چې ساحر او مسحور شیطان ته په هغه څه نیزدې کیږي چې


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

شیطان یې خوښوي،لکه د شیطان په نوم ذبح کول،یا ورته سجده کول، یا ددې نه ما سوا نور حرام کارونه کول، بس هر کله چې دغه جادوګر دا حرام او شرکي کارونه وکړي، نو بیا ورسره شیطان کومک کوي او خپلو شیطانانو ملګرو ته راشي چې دمسحور څخه جادو ختم او لرې کړي، او دحنابلو قول پدې مسله کې ښکاره او واضحه دی، او صرف دضرورت د وجې نه سحر کول جائز دي، لیکن دا جواز دلیل شرعي ته ضرورت لري خو د دوی سره دلیل صرف د ابن المسیب رحمه الله قول دی،او زمونږ سره د جابر رضي الله عنه حدیث او د ابن مسعود رضي الله عنه قول دی،او د حسن بصری رحمه الله دا قول چې (جادو نه سپړي مګر جادوګر یې سپړي) موجود دی.

بله دا چې جادوګر د جادو ختمولو ته نه رسیږي مګر په جادو رسیږي، او جادو حرام او کفر دی، نو آیا جادوګر کفر ددې لپاره کوي چې د مریض نفس یا مصیبت زده نفس راژوندی کړي؟ سره ددې چې اکثره وخت مریض مړ شي یا یې عقل خراب شي، نو رسول الله ﷺ د جادو دروازه بنده کړه او د شیطان او مسحور په



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

کار کې يې فصل او جداوالی نه دی راوستی، يعنی: (ددواړو عمل يو شان دی)( فتاوی ورسائل الشيخ محمد بن إبراهيم:١/٨٤)

شيخ محمد بن صالح العثيمين رحمه الله ويلي دي:
"دجادو خلاصول په دوه ډوله دي:

١- چې په حرامو وسايلو سره حل شي،لکه جادو په جادو سپړل،چې ځيني بانده چيان د سياهی اوبه د مسحور په سر باندې تويوي، تر دې چې د هغه جادو معلوم شي،نو دا قسم حرام دی ځکه هر کله چې د جادو سپړل په حرامو وسايلو سره شو نو حرام شو ځکه چې د نبي عليه السلام څخه د نشري په هکله پوښتنه وشوه، هغه په جواب کې وويل: نشره دشيطان دکارونو څخه ده،دا حديث امام ابو داؤد په جيد سند سره روايت کړی دی.

٢- چې جادو په مباحو طريقو سره حل شي، لکه په شرعي دعاگانو يا د قرآن په لوستلو يا په مباحو دوايانو سره حل شي، نو بيا باک نه کوي، او جائز دی.( فتاوی نور علی الدرب:"التوحيد والعقيدة")



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

د علمي بحثونو او فتوی ورکولو دکمیټۍ څخه د جادو په جادو سپړلو د حکم په هکله پوښتنه وشوه هغوی ورته په جواب کې وویل دا کار جائز نه دی،او دلیل پرې حدیث د امام احمد او د امام ابو داؤد دی چې هغوی په خپل سند سره ذکر کړی دی، د جابر رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې د نبي علیه السلام نه د نشرې په هکله پوښتنه وشوه هغه وویل: چې نشره د شیطان د کارونو څخه ده.

په طبیعي دوایانو، او په شرعي دعاګانو کې د جادو لپاره کفایت دی، ځکه چې الله د هر مرض لپاره علاج هم پیدا کړی دی، (ځوک چی پوه شو هغه پوه شو، او ځوک چې پرې پوهه نشو هغه پوهه نشو).

نبي علیه السلام په علاج کولو امر کړی دی، او د حرامو شیانو داستعمال او په هغې د علاج کولو څخه یې منع کړې ده، لکه چې یې ویلي دي: ( تداووا ولا تداووا بحرام)ژباړه:"علاج کوئ، خو په حرامو شیانو علاج مه کوئ"



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او د نبي ﷺ څخه نقل دي چې هغه ويلي دي : (إن الله لم يجعل شفاء أمتي فيما حرم عليها)

ژباړه:الله جل جلاله زما د امت شفاء په حرامو شيانو کی نه ده ايښودلي.

(فتاوى اللجنة الدائمة:١/٥٥٨)

او د لجنة الدائمة په يو بيان کې جادوگر ته د تگ د حکم په هکله راغلي دي چې مخکې ورته هم اشاره شوي ده :

"دجادو علاج به په قران او شرعي دعاگانو، او په مباحو دوايانو سره کولی شي،او هر چې د جادو علاج په جادو سره دی نو دا کار حرام دی، او دا کار د شيطان د کارونو څخه دی، همدارنگه دجادو علاج دکاهنانو او ترويتيانو او کوډگرانو څخه په پوښتنو کولو حرام او ناجائز دی،او د هغه شي استعمال هم ناجائز دی کوم چې هغوی وايي، ځکه چې هغوی ايمان نه لري، دروغجن فاجران دي، دعلم غيب دعوه کوي، او په خلکو باندې گډوډي راولي،نبي عليه السلام هغوی ته د تگ کولو او د هغوی څخه د پوښتنو کولو او د هغوی تصديق کولو څخه خلک ويرولي او منع کړي دي.


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

دنبي علیه السلام نه په صحیح سند سره ثابت دي چې د هغه نه د نشري په هکله پوښتنه وشوه، هغه په جواب کې وویل"نشره د شیطان دکارونو څخه ده، دا حدیث امام احمد ا و امام ابو داؤد په جید سند سره روایت کړی دی.

او نشره هغه ده چې د مسحور نه جادو ختم کړی شي، او پدې حدیث کې د نشري نه مراد هغه نشره ده چې اهل الجاهلیة یې کوي،او هغوی د جادوګرانو نه ددې لپاره پوښتنه کوي چې جادو په جادو سره حل کړي.

هر چې د جادو سپړل په دمونو او په شرعي دعاګانو او مباحو دوایانو سره کولی شي نو پدې کې کوم باک نشته او د سلفو څخه چې د نشري کوم جواز نقل دی د هغې نه شرعي نشره مراد ده، او هغه نشره په قران او شرعي دعاګانو او مباحو دوایانو سره جادو ختمول دي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

که زه شورو شم او پدې مسله کی دعلماؤ اقوال رانقلوم نو رساله به ډیره اوگده شي، او ان شاءالله پدې ذکر شو دلایلو کې به کفایت وي.

دالله جل جلاله څخه دا سوال کوم چې ماته او زما مسلمانانو ورونو ته حق، حق راوښايي، او تابعداري يې راته نصيب کړي،او باطل راته باطل وښايي، او ځان ساتل ترې راته نصيب کړي،او په مونږ يې گډوډ ونه گرځوي چې مونږ پرې گمراه شو، يقيناً الله جل جلاله سخي او عزتمند ذات دی.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد واله وصحبه. وبالله تعالى التوفيق.

د سه شنبې ورځ ١٤٤٠/٧/٤هـ موافق:٩/٤/٢٠١٩



Download from:aghalibrary
الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner